باقی سمندر
کابل افغانستان
اسد 1386
12 اگست 2007







# جرگه امن در کابل بپایان رسید .

جرگه امن در خیمه بزرگی که باری بخاطر لویه جرگه در کابل برپا شده بود ، با شرکت هفتصد وچند نفر بپایان رسید. برای تدویر جرگه امن بیشتر از یازده ماه تدارک دیده شده بود و از آغاز طرح در ماه مبارک رمضان پارسال در واشنگتن دی سی ایالات متحده امریکا تا اکنون نشرات گوناگون در مورد برپائی جرگه زیاد نوشته اند.
اینک متن قطعنامه مصوبه جرگه را پیش کش خواننده گان عزیز مینمایم و امیدوارم که عزیزان ما به تجزیه وتحلیل این قطعنامه خود را آماده سازند. قطعنا مه که بزبان پشتو است خدمت شما تقدیم میگردد و دیری نخواهد پائید که قطعنامه بزبان های دری و انگلیسی را هم به خدمت شما پیش کش نموده بتوانم.

## دافغانستان اوپاکستان دامن ګډي جرګي پريکړه ليك

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان اوپاکستان دامن گډه جرگه د ۲۰۰۷- م کال داگست دمیاشتي له ۹
مي نیټي څخه تر ۱۲ مي نیټي پوري چي د۱۳۸۶ هجري لمریزکال دزمري
دمیاشتي له ۱۸ څخه تر۲۱ نیټي پوري کیري دافغانستان په پلازمینه کابل کي
ددي لپاره جوړه شوه چي ددواړو ورونو هیوادونو عزم او هوډ په سیمه کي
دتلپاتي سولي دتامین لپاره تائید اولاپیاوړي کړي . دغه جرگه دافغانستان
اوپاکستان دولسمشرانو دهغه نوښت پربنسټ جوړه شوه چي د ۲۰۰۶ م کال
دسپتمبر دمیاشتي پر ۲۷ مه نیټه یي کړي و.داجرگه چي د ۷۰۰ تنو غړو په
گډون جوړه شوي وه په خپل ډول کي یوازیني تاریخي جرگه ده چي دخلکو
ترمنځ یي دخبرو اترو لاره پرانستله په جرگه کي ددواړو هیوادونو دپارلمانونو غړو
، دسیاسي گوندونو استازو ، مذهبي اوقومي مشرانو ، دولایتي شوراگانو
رئیسانو ، دمدني ټولني اوتجارتي ټولنو استازو برخه اخیستي وه. جرگه
دافغانستان داسلامي جمهوریت د جمهوررئیس جلالتماب حامدکرزي
اودپاکستان داسلامي جمهوریت دصدراعظم جلالمتاب شوکت عزیز په ویناو
سره پرانستل شوه.دامن داگډه جرگه دافغانستان داسلامي جمهوریت د
جمهوررئیس جلالتماب حامدکرزي اودپاکستان داسلامي جمهوریت د
جمهوررئیس جلالتماب پرویز مشرف په ویناو سره پاي ته ورسیدله
.ددي گډي لومړني جرگي وړاندیزونه په لاندي ډول دي :
۱ _:
دامن گډي جرگي په یوه خوله اویو غږ تروریزم دواړو هیوادونو ته گډ گواښ
وباله او ویي ویل چي دتروریزم پرخلاف جگړه دي ددواړو هیوادونو دملي
پالیسیو او امنیتي ستراتیژیو یوه نه بلیدونکي برخه وي دامن گډي جرگي برخه
والو اعلام وکړ چي دتروریزم پرخلاف دي پراخه اوپرلپسي مبارزه وشي
اودپاکستان او افغانستان له حکومتونواوولسونو څخه یي وغوښتل چي په خپلو
هیوادونو کي ترهگرو ته دپټنځایونواو روزنځایونو اجازه ورنه کړ
۲:
دامن گډي جرگي دیوي داسي جرگه گي د جوړیدو پریکړه وکړه چي دهري
خواله ۲۵ مخورو غړو به جوړه وي اودلاندینیو هدفونو لپاره به هڅي کوي. الف :
له مخالفینو سره دسولي اوپخلاینی دروان بهیر گړندي کول. ب : دامن دگډي
جرگي دپریکړو اوسپارښتنو دځارلو اوپلي کولو لپاره دمنظمو ناستو اوغونډو
جوړول.ج : دامن دراتلوونکي گډي جرگي د جوړولو لپاره دطرحي ترتیب
اوداسانتیاو برابرول
۳ _دامن گډه جرگه یو وار بیا ددواړو هیوادونو ترمنځ دوروړ ولي داړیکو پر حیاتي
ارزښت ، دمتقابل احترام ، نه لاسوهني اوسوله ییزگډ پاینښت لپاره ټینگار
اوددواړو هیوادونو ترمنځ داقتصادي_ټولنیزو او کلتوري اړیکو دلازیاتي
پراختیاسپارښتنه کوي
۴ _دامن دگډي جرگي غړو کلك باور څرگند کړ چي ترهگري اودنشه یي توکو
قاچاق له یوبل سره تړل شوي اودنشه یي توکو، اپینو اونورو ناقانوني توکو کرل ،
پخول اوقاچاق یي و غندل .جرگي پر دواړو حکومتونو غږ وکړ چي ددي مصیبت
پرضد دي هر اړخیزه مبارزه پیل کړي . جرگي دنړیوالي ټولني مسوولیتونو ته هم
اشاره و کړه او ویي ویل چي بزگرو ته دبدیل ژوندانه په برابرولو کي دي داټولنه
له افغانستان سره مرسته وکړي

۵ _جرگي غوښتنه وکړه چي دافغانستان اوپاکستان اسلامي جمهوريتونه دي
دنړيوالي ټولني په مرسته له ترهگري څخه په زيانمنو شويو سيمو کي په
اقتصادي اوټولنيز ډگر کي بنسټيزي پروژي پلي کړي
۶ _دامن گډي جرگي دپنځو کاري کميټو بشپړي اومهمي سپارښتني ديوي
ضميمي په توگه ددغه گډ پريکړه ليك برخه اوورسره مل دي"
پايان قطعنامه

.
بياد بسپاريد که

آقای مشرف درجرگه امن در کابل گفت که
"در مقابل ما (پاکستان) هم مسئولیتی داریم: شکی ندارم که شورشیان در افغانستان از خاک ما حمایت
می شوند و مسئولیت ما این است که اجازه ندهیم حلقات حامی شورشیان در خاک ما به فعالیت خود ادامه دهند."